# پروگـــــــرام کمک هـــــــای کـــــــوچک

شماره اول

دار الانشای دفتر مشترک تنظیم انتخابات

ادیتور : محمد یما مبتکر

حمل ۱۳۸٤








## د ورو مرستو پروګرام خپل فعالیتونه پیل کړل

د ورو مرستو پروګرام خپل فعالیتونه " د ښځو د نړیوالي ورځې د لمانځنې " په نوم پورژې په تمویلولو سره پیل کړل . دا پروګرام د ۲۰۰٥ کال د اپریل په ۸ نېټه د ښځینه ګروپ د شنې لارې اداري (Greenway Organization) لخوا په ګرین پلیس هوټل کې ترسره شو.

درې سوه ښځو چې اکثره یې له مهاجرت څخه راستنې شوې وې ، په دې پروګرام کې ګډون وکړ. د انتخاباتو د تنظیم دګډ دفتر د کمیسیون غړې محترمې نجلا ایوبي په دې پروګرام کې ګډون وکړ او د خپلې پرتمینې وینا په وړاندې کولوسره یې افغاني ښځې و هڅولې څو د ۱۳۸٤کال په ټاکنو کې ګډون وکړي او په مدني ټولنه کې برخه واخلي .

د افغانستان د نوی کال د عنعنوي غونډېدنو نه په استفادې سره ، د ورو مرستو پروګرام یو بل پروګرام تمویل کړ چې هدف یې د بزګرانو د ورځې ( نوروز) لمانځنه وه. دا پروژه د ۱۳۸٤کال د اوري( حمل) په لومړۍ نېټه په دارالامان کې واقع د نجونو د سراسیاب په نامه ښوونځې کې ترسره شوه . په دې پروژې کې د ښځو او ماشومانو په ګډون له ٤۰۰ څخه زیاتو خلکو د اوربښت سره سره د خوشحالۍ په فضا کې برخه واخسته. د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر کمشنرې محترمې نجلا ایوبي او د ټولنې نورو روڼ اندو چې د ورو مرستو پروګرام د کارکوونکو لخوا له وړاندې څخه د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د انتخاباتو لپاره روزل شوي دي ، د ۱۳۸٤کال د انتخاباتو په هکله ارزښناکه وېناوې واورولې .

ددې پروګرام په ترڅ کې ، د ګډون کوونکو لخوا د ښوونځې په انګړ کې ۱٥ نیالګي کېښودل شول . پنځه دېرش نور نیالګي په دریو جوماتونو کې کېښول شول چېرته چې خلک د انتخاباتو په هکله دمعلوماتو ترلاسه کولو لپاره راغونډ شوي وو.

" راتلونکي نسل لپاره یوه ونه کښېږدئ ، خپلو ماشومانو لپاره یوه رایه ورکړئ " ، دا د پروګرام غښتلی او سمبولیک پیغام ؤ. د دارالامان خلکو پروژه وستایله او په نورو سیمو کې یې د دې ډول پروګرامونو د ترسره کولو غوښتنه وکړه ، ترڅو خلک د ۱۳۸٤ د انتخاباتو په هکله ضروري معلومات ترلاسه کړي .

